واحد فقيري ۲۰۱۶/۰۲/۲۵

# له کندهاره و کابل ته د مغزي فرار تاريخي پروسه

## (۱۷۷۳-۱۹۹۰)

### دويمه برخه

### د امير عبدالرحمن د تشدد دوران (۱۸۸۰ – ۱۹۰۰):

د امير عبدالرحمن خان په رکودي دوره کي، په کندهار کي د نور افغانستان په شان عصري تعليم او عصري پرمختګ په برخه کي توره تياره وه. که څه هم د خپل ژوند په جريان کي ئي په شمال او هند کي د معاصر مدنيت نښي نښاني په خپلو سترګو وليدلي، خو د هغه پر دماغ ئي چندان اثر نه و کړی. عبدالرحمن خان په سيکالوژي لحاظ يو جبار شخص و. نهايت شکاک، کينه توزه او محافظه کاره سړی و. هغه په خپل لالهانده ژوند کي دا زده کړي ول چي پر هيچا بايد اعتماد و نه کړي.

که څه هم امير عبدالرحمن خان په افغانستان کي د تلګراف او د ټرين له خط سره مخالفت کوي، خو له انګريزي «سرکاره» مستمري اخلي او حتی چني هم ورسره وهي. عبدالرحمن خان په خپلو خاطراتو تاج التورايخ کي د وطن د ترقي او آبادي له پاره هيڅ کوم عالي هدف او تګلاره نه بيانوي. له تاج التورايخ څخه داسي ښکاري چي د «فولادي امير» يوازنی لوی هدف دا دی چي څرنګه سلطنت په خپلو بچيانو کي ـ البته د پرنګي سرکار په موافقه – موروثي او ابدي کاندي.

خو د امير عبدالرحمن خان په لومړيو کلونو کي (۱۸۸۰)، له کندهاره زيات شمېر نخبه ګان او انګريز ضد کورنۍ و هند او نورو وطنونو ته فراري سوې. په دې فراري اشخاصو او کورنيو کي غازي محمد ايوب خان او کورنۍ ئي، جنرال تاج محمد خان پوپلزی او فاميل ئي، غلام محمد خان طرزي، ځوان ۱۶ کلن محمود طرزي او کورنۍ ئي او داسي نوري منوري کورنۍ مجبوره سولي چي له کندهاره و هند، شام، ايران او نورو ملکونو ته د اوږدې مودې له پاره مهاجري سي.

لنډه دا چي عبدالرحمن خان په خپل شل کلن رکودي دوران کي د تنوير او عصري معارف د انکشاف له پاره هيڅ عملي ګام وا نه خيست. حال دا چي په دې وخت کي په شاوخوا ګاونډي اسلامي ملکونو کي، د نوي مدنيت موسسات، عصري معارف او حتی پوهنتونونه جوړ سوي ول. په ترکيي، هند، ايران او مصر کي د عصري پوهنتونونو جوړېدل له ۱۸۳۰ څخه راپيلېږي، خو په افغانستان کي د کابل پوهنتون په ۱۹۳۲ کي افتتاح سو. په دې وخت کي د سيد جمال الدين افغان، طهطهاوي، محمد عبده، کواکبي، سيد احمد خان او داسي نورو مسلمانو منورينو مبارزې خلک را ويښ کړي ول، مګر په افغانستان کي په همدې وخت کي د عبدالرحمن استبداد تاريخي او تلپاته قومي او سمتي درزونه ايجادول.

اما بيا هم د عبدالرحمن خان په اخرو کلونو کي، کله چي افغانستان کاملا آرام سوی و، يو لړ کندهاري فاميلونه لکه د بابا عبدالعزيز الکوزی، د عبدالهادي داوی، د عبدالرحمن لودين، او داسي نور کابل ته وخوځېدل. څکه عبدالهادي داوی او عبدالرحمن لودين دواړه په کابل کي زيږېدلي دي، او دواړه د حبيبيي د ليسي د انقلابي دوری شاګردان ول، خو بيا هم دواړو معززو کندهاري منورينو د خپل موروني ښار سره نژدې اړيکي ساتلي او کله نا کله به ئي په کندهار کي ژوند او ماموريت هم کاوه (حبيبي، مشروطيت، مخونه، ۱۳۷- ۱۴۶).

د عصري افکارو او مشروطيت د غوړيدا پير (۱۹۰۰-۱۹۲۰):

د ۱۹۰۰ په بهير کي، له کندهاره و کابل ته نه يوازي د سياسي او حکومتي اشخاصو او کورنيو مغزي فرار يو ځل بيا تر پخوا لا په شدت را شروع سو، بلکي د کندهار د بشري سرمايي نوري ډلي لکه متخصصين، فرهنګي نخبه ګان، علمي او مسلکي کدرونه، تجاران او کورنۍ ئي، هنري څېري او ځوان استعدادونه و کابل ته کډه سول. د ۱۹۰۰ په لومړۍ لسيزه کي مانا د امير حبيب الله په سلطنت کي، څو کندهاري تبعيدي کورنۍ واپس وطن ته راستني سوې


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

او اکثره په کابل کي مېشتي سوي. د مثال په توګه، يوه د محمود طرزي کورنۍ ده چي ۱۹۰۰ په سر کي کابل ته راستنه سوه.
کله چي په ۱۹۰۳ کي د حبيبيې عصري مکتب په کابل کي تاسيس سو، د حبيبيې مکتب د مترقي افکارو او د سياسي فعاليتونو مرکز و ګرځېد. همدا مکتب تر ۱۹۰۹ پوري کله چي د اول مشروطيت مشران اعدامېږي، په افغانستان کي د ګونده وو سياسي نخبه ګانو د تعليم او سبق مکتب و (غبار، افغانستان در مسير تاريخ، مخ – ۷۱۷). په دې وخت کي، مولوی محمد سرور واصف کندهاري، غلام محی الدين افغان کندهاري، مولوي عبدالرب آخند زاده کندهاري د حبيبيې ليسي وتلي استادان ول. هغوی په دې وخت کي د کابل په ټولنه کي د راسپړېدونکو سياسي څپرو لارښود مشران او رول ماډل هم ول.
واصف:
محمد سرور واصف، د اول مشروطيت منلي مشر، زوروره کريزما او تېره منطق لرل. صداقت او صراحت د بيان ئې خلګ سمدستي متاثر کول. د محمد سرور واصف مقناطيسي شخصيت هغه په خپل ماحول کي محبوب کړی و او په کابل کي د سياسي ګرداوونو بارز محور ګرځېدلی و. د واصف علم، سياسي تقوا، او نه لړزېدنکی ايمان خپل شاګردان او پيروان اغېزمن کول. هغه د خپل وخت وتلی ليکوال، ظريف او خوش طبع شخص و. واصف د جهاني روابطو، سياست او مترقي مفکورو په اړه ژوره مطالعه درلوده او د قوي حافظي خاوند و. په اسلامي علومو کي استاد و، په څو خارجي ژبو ئې مطالعه کوله. ښه تکړه ترجمان و. هغه يو داسي استاد و «که مدرسهٔ حبيبيه نظيرش باز به چشم نديده.» (حبيبي، مشروطيت، مخ – ۱۵)
د محمد سرور تر څنګ نور کندهاري مبارز او منور شخصيتونه لکه ايوب خان پوپلزی او بابا عبدالعزيز الکوزی هم په کابل کي فعاله ول او اکثرو د مشروطيت او قانونيت په لاره کي ستري قربانۍ ورکړې. په همدې کلونو کي، د حبيبيې د ليسي همدا ملي او مبارز استادان په افغانستان کي د لومړی مشروطيت موسسين او معماران سول. د هغوی کريزما زيات ځوانان ورجلب کړي ول او د کابل په ښار کي ئې مختلفي سياسي حلقي پر ځان راغونډي کړي وې.
هغوی په ګډه د افغان په ځوان نسل کي د وطپالني افکار، د جهان او مدنيت په ارتباط نوي نظريې، د عصري معارفو عامول او په حکومت کي خلګو ته د ونډې ورکولو د حق ترويج خوراوه. د خلګو ملي حاکميت ئې تدريساوه. د هغوی اساسي مفکوره د سلطنت په رامهارولو باندي راڅرخېده. په همدې زمان کي، په ايران، مصر، او نورو اسلامي ملکونه کي د مشروطيت په شان ورته سياسي نهضتونه راسپړېدلي ول.
په ۱۹۰۶ کي، کله چي د سراج الاخبار لومړۍ ګڼه خپرېدله، د سراج الاخبار د انجمن ريس مولوی عبدالروف کندهاري و او يو مرستيال او قلمي همکار ئې محمد سرور واصف و. دغه راز، بابا عبدالعزيز خان الکوزی، مولوي عبدالواسع او غلام محی الدين افغان ئې ځوان همسنګره او همفکره ول.
غلام محی الدين افغان د کابل په شور بازار کي کوټه لرله چي د سياسي ګرداوونو او نويو مترقي مفکور د جر و بحث ميدان و. د غلام محی الدين افغان شخصيت او کريزما د کابل په ښار کي زيات وطنپال او با شعوره سياسي ځوانان پر ځان باندي راغونډ کړي ول. افغان په لاهور کي درس ويلي و او په هند کي ئې ژوند کړی و. په اردو او څه انګريزي پوهېدی. ښايي همدا د جهان ګښت او په څو خارجي ژبو خبري کول د هغه شخصي کشش څه نور هم زورور کړی وي. ځکه هغه د خپل وخت په ځوانانو کي سخت محبوب و. د ژوري مطالعي خاوند و. بلخوا، افغان د پښتو ژبي له لومړيو معاصرو ليکوالانو څخه دی. د هغه په کوټه کي به ديګ باندي و او د افغان نسل د شلمي پيړۍ د اوايلو صادق زامن به په سياسي او فرهنګي بحثونو لګيا ول. همدا ځای د ځوانانو د تجمع مرکز و. همدلته، د اجتماعي او علمي بحثونو په دريځ کي نوي ځوانان روزل کېدل. (حبيبي، مشروطيت).
طرزي:
کابل ته محمود طرزي له راستنېدو سره سم (۱۹۰۵)، د افغانستان په تنوير او فکري انکشاف کي يو نه هېرېدونکی ستوری ور اضافه سو. هغه نه يوازي د نوو مفکورو سره راغلی و، بلکي هغه د دې اراده لرله چي د يو نوي افغان نسل له پاره معلم او فکري لارښود سي. هغه داسي ځوانان وروزل لکه غازي امان الله خان، عبدالهادي داوی او عبدالرحمن لودين.
محمود طرزي ۱۶ کلن زلمی و چي د جلا وطنۍ تريخ خوند ئې وليد او مهاجر سو. هغه جمعا ۲۳ کاله په تبعيد کي د خپل پلار غلام محمد خان طرزي سره په کراچي، بغداد، دمشق او استامبول کي تېر کړل. ځوان محمود طرزي د شاعرانه ذوق خاوند و، د تجسس او تحقيق فکري تنده ئې لرله. د افغان وطنپالني او نشنليزم پوخ فکري ميراث ئې له ځان سره لاره او د علم د زده کولو له پاره ئې يو خدايي استعداد لاره. د طرزي آرام او متين شخصيت، د هغه پراخه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

علمي او جهاني تجربه او د هغه شيکه او معاصره سليقه د نويو افغان ځوانانو له پاره د علم او تنور ډکه چينه وه. په هر صورت، د ۲۳ کلن مهاجرت په جريان، محمود طرزي يو مبتکر ليکوال، د تجدد او مترقي افکارو يو الهام بخښونکی منور شخص او د افغان نشنليزم يو ځلانده او تلپاته ځلي را وخوت. هغه د خپل ټول مصروف ژوند سره سره نه يوازي ځو کتابه وليکل، بلکي ځو اثره ئي په خورا روانه او عصري فارسي ترجمه کړل.
محمود طرزي په خپلو جالبو خاطراتو کي خپل د ژوند داستان په خورا روانه او نوی فارسي باندي ليکي. د طرزي خاطرات د ۱۸۷۰ د کابل د سياسي جوړښت او د افغان – انګليس د دوهم جنګ په باب اول لاس معلومات راکوي. طرزي د خپل وخت د کابل ښه تصوير راته ښيي. هغه په خپلو خاطراتو کي د کابل اصيل اصطلاحات لکه «کټره» ويل، «چوني» او «کنچني» استعمالوي.
طرزي په خپلو خاطراتو کي نهايت صادق او روک دی. هغه د خپلو ښو او بدو ورځو ياد په صداقت سره کوي. هغه ليکي: کله چي مي پلار په کابل کي مفلس سو، هغه د کور سماوار، پتنوس او غوري خرڅ کړل او ځو شپي مو په همدي پيسو ښه غوړ «سماوار پلو و غوري پلو» وخوړ. محمود طرزي په خپلو مشاهداتو کي ليکي: د انګريزانو په مقابل کي د افغان سلطنتي عسکرو جنګي روحيه نه درلوده. هغوی يوازي د «پريټ» له پاره ښه ول او چي چانس به برابر سو، افغان عسکرو عموما «چور» کاوه. طرزی ليکي: کله چي انګريزانو د دوهم ځل له پاره پر افغانستان باندي تجاوز وکړ، ځينو سردارانو او د کابل ځينو اقليتونو د فرنګي راتګ ته خوشحالي کوله او ويل ئي چي «نان شان پخته شد» (محمود طرزي، خاطرات، مخ ۸۸).
په هر صورت، د مشروطيت د اعضاو د ۱۹۰۹ د قتل عام زلزلي، له کندهاره و کابل ته د نويو کورنيو کډه کول څه وځنډول. په دي قتل عام او بندي کريو کي د اول مشروطيت سالار محمد سرور واصف، ورور ئي سعدالله خان، ايوب خان پوپلزی، عبدالقيوم الکوزی بنديان ول. مولوي عبدالواسع اخند زاده، مولوي عبدالرب اخند زاده، غلام محی الدين افغان، کاکا سيد احمد خان لودين کندهاري، عبدالرحمن لودين او عبدالهادي خان داوي شامل ول. په دې سياسي اعدامونو او بندي ګيرو کي ډير زيات کندهاري فاميلونه خوړ او وزهيرېدل. د زياتو خلګو عزيزان د ابد له پاره نيست او يا هم د کابل د تورو زندانونو د اوږدو کلونو هستوګن سول.

## غازي امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹) د کندهار د رشد او غوړيدا دوره:

د ۱۹۱۹ را پدې خوا، د غازي امان الله خان په دوره کي په کندهار کي د عصري مکتبونو او فرهنګي موسساتو پرانيستل د مغزي فرار پروسه ډيره سوکه کړه، ځکه په کندهار کي دننه معلمينو او استادانو ته ضرورت پيدا سو. د غازي امان الله خان په دوره کي په کندهار کي لومړی ابتدايي مکتب د «تجار» په نامه په ۱۹۲۱ کي پرانيستل سو. د امان الله خان په روښانه دوره کي، په کندهار کي د تلګراف کورس هم جوړ سو چي د پنځم صنف هلکانو ئي په کښي داخل سول (رشاد، دوهم جلد، مخ ۲۳۹). د همدي کورس اکثره شاګردان د امان الله خان کلک پلويان ول او په راوروسته زمانو کي، د کندهار د ښاري طبقي مخکښ او مخور کسان سول، او د ۱۹۴۰ په کلونو کي زياتره د ويښ زلميانو غړي سول.
په ۱۹۲۱ کي، له کندهاره د طلوع افغان اوونيز جريده د مولوي صالح محمد هوتک په مشرۍ د لومړی ځل له پاره خپره سوه ( رشاد، مخ ۲۳۴-۲۳۵). د طلوع افغان لومړي مديران او قلمي همکاران د کندهار د شلمي پيړی د نخبه ګانو په جمله کي حسابيږي. د طلوع افغان په جريده کي ځو نسله کندهاري منورين او ځوان ليکوالان تربيه او ټرين سول. د طلوع افغان دفتر په کندهار کي د يوه فرهنګي مرکز حيثيت لاره. په راوروسته لسيزو کي، د طلوع افغان دفتر د کندهاري ليکوالانو له پاره يوه کلب ته پاته کيدی. د امان الله خان په دوره کي، بابا عبدالعزيز د طلوع افغان مديريت تېر کړی دی او عبدالرحمن خان لودين د کندهار د ښاروال و. په دې وخت کي، دواړه له کابله و کندهاره ته راغلی دی.
لنډه دا چي د امان الله په منوره دوره کي له کندهاره و کابل ته د مغزي فرار پروسه نه يوازي څه سوکه سوه، بلکي حتی په ځينو مواردو کي ځيني کندهاري منورين له کابل بېرته و کندهار ته په ښت راغلل. ښايي له کندهاره څخه و کابل د مغزي فرار په څه باندي ۲۰۰ کلن بهير کي دا لومړي ځل وي چي له کابله و کندهاره ته د منورينو او تحصيل کړده ګانو ريورس مهاجرت کيږي او د دې په ښت تګ کي لوی عامل په کندهار کي د لومړي ځل له پاره د عصري مدنيت د ځينو موسساتو او مکتبونو پرانيستل ول.
غازي امان الله خان شخصا د کندهار له انکشاف او پرمختګ سره خاصه علاقه لرله. هغه د خپل سلطنت په دوران کي شپږ ځله کندهار ته سفر وکړ. د همدي سفرونو په ترڅ کي، امان الله خان د ښار له مختلفو طبقو او اقشارو سره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

وکتل. په ښار ګښني آزادانه ګرځېدی. او تل ئې په ښار کي د عصري معارفو وده تشویقول. همدا سبب وو چي په کندهار کي د امان الله خان له پاره زښته زیاته سمپتي ایجاده سوې وه. لنډه دا چي غازي امان الله خان و اکثرو کندهاریانو ته ګران او محبوب و. دا پلوي په ښاري طبقاتو کي نهایت زیاته وه او لا تر اوسه پوري په ښځینه او نارینه کندهاریانو کي ژوندی ده. په ۱۹۲۹ کي، کله چي د بچه سقاو ارتجاعي او ایله جاري قواوو کابل ونیو، د غازي امان الله خان آخري سنګر د کندهار ښار او ښاریان ول. په دې وخت کي، د کندهار ښاریان د غازي امالله له پاره و هر راز قربانی ته چمتو ول، او تر غزني پوري ورسره مل ول

.

## کندهار د نادر خان – هاشم خان (۱۹۳۰-۱۹۴۶) په دوران کي:

د کندهار د انکشاف او پرمتختګ له پاره د نادرخان او هاشم خان دورې (۱۹۲۹-۱۹۴۶) د سیاسي اختناق، اجتماعي عقبګرد او مغزي فرار زمانه ده. په دې دوره کي، سلطنت هڅه کوله چي په کندهار کي د غازي امان الله خان محبوبیت او سمپتي ختمه کړي. د هغه پلویان مشخص او تیت و پرک کاندي او د مشروطیت او آزادی فعالان خفه کړي. په عمومي صورت، دړارن سلطنت د منورینو له تجمع څخه ببرېدی، په تېره بیا له داسي منورینو څخه چي د غازي امان الله خان سره ئې خواخوږي او فکري تړاو درلود. نادر خان په لومړي سر کي په مختلفو پلمو د مشروعیت باقي پاتي کسان قتل او یا هم بندي کړل. د نادر خان تر وژل کېدو را وروسته، د هاشم خان په دوره کي سیاسي اختناق، د ضبط احوالات وهم، د سیاسي مخالفانو د تصیفه کاریو پروسه نوره هم پراخه سوه. بابا عبدالعزیز، عبدالهادي داوی او غلام محی الدین افغان بیا زنداني سول. په دې باره کي، د میر غلام محمد غبار (افغانستان در مسیر تاریخ، دوهم جلد) په تفصیل بیان کوي، او د نادر – هاشم خان د توري دورې محبسونه، بندیان، د بندیانو تحقیر او توهین او سلطنت شکنجه ګران په نامه یادوي (غبار، ۱۱۰-۱۵۰).
د نادر خان – هاشم خان په دوره کي، د امان الله خان د پلویانو د تصفیه کارۍ او د منورینو د تیت و پرک کولو په منظور ئې وزیر محمد ګل خان د کندهار نائب الحکومه مقرر کړ. محمد ګل خان محمد په خورا غضب او هیبت د سلطنت پالیسي په کندهار کي عملي کړه. که څه هم د وزیر محمد ګل خان په دوران کي په کندهار کي د (پښتو ادبي انجمن) جوړ سو، خو همدا فرهنګي موسسه بېرته په ۱۹۳۵ کي کابل ته انتقال سوه او بالاخره په پښتو ټولنه کي ادغام سوه (رشاد، مخونه ۲۳۲-۲۳۳). داسي ښکارېده چي سلطنت هیڅکله د امان الله خان له پاره د کندهاریانو ملاتړ هېر نه کړ. سلطنت په دې برخه کي له کندهار سره خاصه کینه اخیستي وه او دا کینه حتی د کندهار د زاړه ښار تر د یوالونو، د پخواني ابداتو تر ورانولو پوري هم ورسېده.
بلخوا، په کندهار کي د ۱۹۳۰ او ۱۹۴۰ په کلونو کي اقتصاد مخ پر ښه کېدو و، او ښایي یو علت ئې نسبي امنیت و. بل سبب ئې دوهم نړیوال جنګ و. په دې جنګ کي افغانستان بې طرفي غوره کړه او د جنګ په دوران او راوروسته کي ئې څه اقتصادي ګټي ترلاسه کړي. د ۱۹۴۰ په لسیزه کي، د کندهار ملي بورژوازي له شرایطو څخه ګټه واخیسته او خپل کار و بار ئې پراخ او منظم کړ. ځکه د کندهار بورژوازي ډینامیک او مبتکره وه. د ۱۹۳۰ او ۱۹۴۰ په لسیزو کي په کندهار کي ځو خصوصي شرکتونه، لکه پښتون شرکت، د وطن شرکت، زرغون شرکت او د ویسا شرکت، تاسیس سول. همدې اقتصادي ودي د کندهاري ځوانانو له پاره دننه په ښار کي کار او په خصوصي سکتور کي د استخدامېدو فرصت برابر کړی و. په همدې کلونو کي، د کندهار د برق له پاره د کوچنیو سټېشنونو د جوړېدو کارونه پیل سول او سمدستي په ښار کي د فابریکو د ایجادولو له پاره زمینه برابره سوه. (محمد ولي ځلمي، کندهار، ۲۳۷ – ۲۴۱).

د دویمي برخي پای

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ